UNAMA
دفتر هیئت معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان
دفتر ارتباطات استراتیژیک و سخنگوی، کابل، افغانستان
مطبوعاتی بیانیه
http://unama.unmissions.org

**د ملګرو ملتونو د سیاسي چارو رییس د افغانستان څخه لیدنه و کړ**

**د ۲۰۱۴ کال د فبروری ۱۵ نیټه**: په سیاسي چارو کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال ښاغلي جفري فیلټمن نن په افغانستان کې خپله دوه ورځنی لیدنه پاي ته ورسوله.

دا د ښاغلي فیلټمن افغانستان ته له هغه وخته چې د ۲۰۱۲ کال د جولای په ۲ نیټه یې د ملګرو ملتونو ستر سیاسي مقام تر لاسه کړ لومړنی سفر و. هغه زیاتره په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) په کارونو او د افغانستان د اسلامي جمهوریت او دهغه د خلکو سره په بیلا بیلو ډګرونو کې د ملګرو ملتونو د مرستو سره ځان آشنا کړ.

د دې سربیره ښاغلي فیلټمن د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون ، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د چارواکو او په کابل کې د موجودو د کور دیپلوماتیکو استازو سره غونډې درلودلې.

په دې غونډو کې ښاغلي فیلټمن د افغانستان د اسلامي جمهوریت او دهغه د خلکو سره د انتخاباتو په وخت کې د ملګرو ملتونو د مرستو د بیلا بیلو برخو په اړه بحثونه درلودل او دا په داسې مهال کې دي چې هیواد د سیاسي او امنیتي لیږدونو څخه تیریږي. نوموړي په دې ټینګار وکړ چې ملګري ملتونه به د دغه هیواد د نږدې، با اعتباره او مخلص همکار په توګه پاتې وي.

هغه همدارنګه په شمال کې د مزار شریف ښار ته یو لنډ سفر درلود چې هلته یې د ملګرو ملتونو د کارمندانو او د بلخ د ولایت د والي ښاغلي عطا محمد نور سره وکتل.

د سرمنشي د مرستیال او د سیاسی چارو د څانګې د رییس په توګه ښاغلی فیلټمن د ملګرو ملتونو سرمنشي ته په نړیواله پیمانه د سولې او امنیت د مسالو په اړه مشوري ورکوي، په داسې حال کې چې د ښو خدماتو د دفترونو د نوښتونو او د ساحوي سیاسي ماموریتونوچې د سولې را وستلو، وقایوي ډیپلوماسۍ او په نړیواله پیمانه د سولې د اعمار د فعالیتونو څخه نظارت کوي چې په دې کې همدارنګه د ترکمنستان په عشق اباد کې د منځنۍ اسیا لپاره د ملګرو ملتونو د وقایوي ډیپلوماسۍ د سیمه ییز دفترد کار څارنه هم شامله ده.

هغه همدارنګه د ملګرو ملتونو د هغې ټاکنیزې مرستې څارنه کوي چې لسګونو غړو دولتونو ته هر کال برابریږي.

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**